## ارزاقو امارتي‌شرکت؛ ولس يې منلی خدمت!

ارزاقو امارتي‌شرکت د افغانستان په کچه يوازينی دولتي شرکت دی، چې د خوراکي توکو د برابرولو، لېږد او ذخيره کولو مسووليت لري. دغه‌شرکت د دولت تر چتر لاندې فعاليت کوي او موخه يې دا ده چې دولتي او نورو ادارو ته معياري، ارزانه او د باور وړ خوراکي توکي وړاندې کړي.

ارزاقو امارتي‌شرکت نه يوازې د خوراکي توکو د وړاندې کولو خدمتونه تضمينوي؛ بلکې د هېواد په اقتصادي ثبات، د خوراکي توکو خونديتوب او د خلکو د هوساينې په برخه کې هم مهم رول لوبوي.

دغه‌شرکت په پام کې لري، چې په هېواد کې د ګڼو دولتي او خصوصي ادارو لپاره خپل فعاليتونه او خدمتونه پراخه کړي، تر څو د نوښت، چټک پرمختګ او باوري چوپړ تياوو له لارې د خپلو پيرودونکو رضايت ترلاسه او هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر کړي.

همدا راز د دې‌شرکت مسوولين په دې هڅه کې دي، چې د نوموړي‌شرکت بنسټيزو فعاليتونو او سوداګريزو پلانونو ته لا زياته وده ورکړي او هېوادوالو ته د خدمت کولو لړۍ لا پسې وغځول شي.

راځئ چې د ارزاقو امارتي‌شرکت ملاتړ وکړو او د هېواد د بيا رغونې او پراختيا په لار کې خپل مسووليت ادا کړو!

